مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۳/۰۹/۱۳

# «زه یم لور، د خوار وطن»

## (په ښوونځيو او پوهنتونونو کې د نجونو د زدکړو ستونزه)




بیا له تعلیم څخه د افغان نجونو د محروومولو ستونزه او بیا د دې حق د غوښتنې لپاره یو سولهایز غږ، خو دا ځل غږ د دريو هنرونو په یوه ټولګه کې یوځای شوی او داسې رسا راوتلی دی چې د ټل لپاره به له تعلیم د محرومو افغان نجونو د حق غوښتنې غږ وي. د شعر، موسیقۍ او یوه خواږه غږ پر مټ.

د افغان بچیانو نیمايي برخه له خپلو اساسي حقونو (تعليم) څخه محرمول داسې غمیزه ده چې تر ستړو ځوناميګانو نه هم خطرناکه او ورانونکې ده. ځونامي په ځو شېبو کې راځي، ورانى کوي او ورکېږي؛ خو له تعلیم نه د نوي نسل محروومول داسې ورانونکې زلزله ده چې د بدن د ورانولو ترڅنګ د یوې ټولنې د فکر مانۍ هم داسې ورانوي چې ځو نسلونه يې بیا نه شي ودانولی.

په افغانستان کې له دوو کلونو راپه دېخوا زموږ د وطن نجونې او ښځینه له ښوونځیو او پوهنتونونو څخه راګرځول شوې دي او دا د هرې افغان کورنۍ لپاره داسې ورانونکې غمیزه ده چې نه يې خوب ته پرېږدي او نه ارام ته. د دې ناروا پر ضد له هماغه پیل نه غږونه اوچت شوي دي، کله په نرمه ژبه او کله په تنده ژبه، کله کور دننه ـ کله له افغانستان څخه بهر خلکو خپل غږونه جګ کړي دي او د خپلو اولادنو ـ خويندو د حقه حقوقو غوښتنه يې کړې ده، کله په عادي او ساده بڼه او کله د هنر په جامه کې. د هنر په جامه دا ځل د شعر هنر، د غږ هنر او د موسیقۍ هنر لاس سره یو کړی دی او د افغانستان له زدکړو د محرمو بچیانو مظلوم حالت يې په مستند ډول داسې انځور



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

کړی دی چې د حقایقو د بیان تر څنګ یې خپل غږ په داسې هنري او مستند ډول انځور کړی دی چې په لیدلو او اورېدلو سره د تیرې په شان زړونه هم ویلې کېږي.

**د سندرې نوم: د افغان خویندو غږ**

**سندرغاړی: ساجد خان**

**شاعر: سعید شینواری**

دا سندره مې د لومړي ځل لپاره د ګران ارشاد رغاند په فیسبوکپاڼه کې ولیده، څو ځلې مې واورېده او په هرځل لیدو یې کرم ـ کرم شوم. د وطن وراني کوڅې او له ښوونځی او تعلیم نه محرومې نجونې مې لښکر ـ لښکر له مخې تېرې شوې او د دردېدلي ولس د مایوسۍ په سوځنده څپو کې لاهو شوم.

https://www.youtube.com/watch?v=8PvLsQfM3pM&ab_channel=HeelaTV

په سندره کې د ویل شوي شعر، شاعر نورولي سعید شینواری نومېږي. د ښاغلي ارشاد رغاند په قول: «نورولي سعید شینواری زموږ د ځوان نسل له مشهورو ژورنالیستانو او شاعرانو څخه دی. هغه په پښتو ادبیاتو کې د ماسترۍ تر سطحې زده کړې لري. د «زهرکده» په نوم مشهوره شعري ټولګه لري، چې خوانانو کې ډېر مینه‌وال لري او ټولګه یې له چاپ وروسته زر له بازاره نادرکه او څو ځله چاپ ته یې اړتیا پیدا شوه.

سعید شینواری په ټولنیزو رسنیو کې د افغانستان له تر ټولو مطرح او پُر مخاطبه خبري سرچینو څخه دی. هغه د طالبانو له بیا واکمنیدو وروسته هم څه موده د طلوع نیوز تر ټولو مشهوره سیاسي خپرونه«تودې خبرې» چلوله، چې د توندو بحثونو له امله شرایط پرې سخت او هیواد پرېښودو ته اړ شو.

سعید اوس په جرمني کې ژوند کوي او د مهاجرت له ستونزو سره- سره د افغانستان کولتوري ودې ټولنې له ادرسه هم فرهنګي فعالیتونه کوي، چې د افغانستان د خپلواکۍ د ۱۰۴ مې کلیزې د مراسمو په شانداره نمانځنه کې یې جوت نقش درلود.

د هغه د شاعرۍ یولوی خاصیت د خوشال بابا د شاعرۍ په شان د پښتنو په نقد؛ په ځانګړي ډول له ښځو سره یې د ناوړه چلند په غندلو او له پوهې سره یې په نه لیوالتیا څرخې.

عشقي شعرونه هم پریمانه لري، چې سوځند دي. هغه په ځوانو شاعرانو کې د خپل رنګ شاعري کوي، شعر یې له ورایه پېژندل کېږي...»

د ښاغلي نورولي سعید شینواری دا شعر مې د سندرې له متن نه ولیکه، خو د ځینو بیتونو، د ځینو کلماتو تلفظ باندې مشکوک وم، نو مې بیا هم له رغاند صاحب نه مرسته وغوښته چې که د شعر اصل متن پیدا کړي چې زه په دې مقاله کې خوندي کړم، هغه هم د دایمي مهربانۍ له مخې دا لاندې متن راولیږه:

زه یم لور، د خوار وطن
په تیارو کې بندیوانه یم
نه مې حق مني، نه ژوند
د ملا په اند نادانه یم
د رڼا هیلې مې مرې
چرته لاړه شم حیرانه یم؟
جنت ـ جنت ـ وطن شو هدیره

*****

د وطن سرود و لمر
منحوس تندر نیولي دي
تمبې د مکتبو
سپیرو زنګو خوړلي دي
وطن شو هدیره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مرغی ترې کوچیدلي دي
جنت ـ جنت، وطن شو هدیره

*****

تیکری د قام د لور
سپېره شمال ترې وړی دی
بیرغ د قام د ننګ
په سرو وینو لړلی دی
ملا په ګل وطن
د اور تخم کرلی دی
جنت ـ جنت ـ وطن شو هدیره

*****

خوارې سپرلي
د تېښتي په تکل کې دي
د غاړې هار
کارغان رانه په چل کې وړي
نغمې د ژوند
لګیا دي په کابل کې مري
تغمې د وخت
ولاړې په کوګل مې دي
جنت ـ جنت ـ وطن شو هدیره
جنت ـ جنت ـ وطن شو هدیره

*****

زه یم لور د خوار وطن
په وجود مې پښیمانه یم
له مکتب، له کار، ژوند
زه محرومه له رڼانه یم
زه یم ستورې د سبا
خو پرېوتې له اسمانه یم
جنت ـ جنت ـ وطن مې هدیره

په «د افغان خویندو غږ» نومې سندره کې درېواړو هنرونو په ډېر قوت سره خپله مقدسه دنده ترسره کړې ده، شعر ښه سوځنده او د واقعیتونو بیانوکی دی، موزیک ډېر ښکلی او استادانه تنظیم شوی دی او سندرغاړې ساجد خان هم په خپل ښکلي غږ کې داسې زمزمه کړی دی چې د شعر حق یې هم ادا کړی او د شعر پیام یې د خپل ښکلي غږ په څپو کې تر هراوړېدوکې پورې وررسولی دی.

د شاعر غږ خو د زمانو او ولسونو غږ وي او هرڅه په سپینه وایي پرته له ډاره یې په جګ غږ سره بیانوي. په پاسني شعر کې هم ښاغلي نورولي سعید شینواری داسې ستونزې راسپړلې دي چې د ټول ولس درد او ستونزې ده او په دې ډول یې خپل غږ او د زړه خبر تر هېوادوالو او نړیوالو پورې رسولی دی.

د بحث وړ سندره (د افغان خویندو غږ) په لاندې لینک کې لیدلای شئ:

[https://www.youtube.com/watch?v=8PvLsQfM3pM&ab_channel=HeelaTV](https://www.youtube.com/watch?v=8PvLsQfM3pM&ab_channel=HeelaTV)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ